**کلفورنیا پوهنتون، سان فرانسیسکو**

## د څېړنې ګډونوال

# د حقونو منشور

لاندې د هغو کسانو حقونه دي چې په یوه څېړنه کې د ګډون غوښتنه ترې شوې وي. په څېړنه کې د یو ګډونوال په توګه زه لاندې حقونه لرم:

1) دا چې باید درته وویل شي چې څېړنه د څه په لټه کې ده،
2) دا چې باید ماته وویل شي چې زما سره به څه وشي او ایا دغه پروسیجرونه، درمل یا وسایل له هغو سره توپیر لري چې په معمولي ډول استفاده ورڅخه کېږي که څنګه،
3) دا چې باید د هغه مکررو او/یا مهمو خطرونو، جانبي عوارضو یا هغو اندېښنو په اړه ماته وویل شي چې د څېړنېزو موخو د ترسره کېدو له امله ماته پېښېږي ،
4) دا چې باید ماته وویل شي چې په څېړنه کې د ګډون له امله کوم امتیازات راکول کېږي که نه، که وي نو دا امتیاز به څه وي،
5) دا چې باید د نورو هغه انتخابونو په اړه ماته وویل شي چې زه یې لرم او دا چې دغه انتخابونه به په څېړنه کې زما شتون به ښه انتخاب وي که بد،
6) دا چې باید په څېړنې کې د ګډون له توافق وړاندې او د څېړنې پر مهال د څېړنې په اړه د پوښتنو کولو اجازه درکړل شي،
7) دا چې باید درته وویل شي چې د ستونزې راولاړېدو پر وخت کومې طبي درملنې د لاسرسي وړ دي،
8) دا چې باید درته وویل شي چې کولای شئ په څېړنه کې خپل ګډون رد کړئ یا د څېړنې له پیل وروسته د خپل ګډون په اړه فکر بدل کړئ. دا چې د نه ګډون دغه پرېکړه به زما د روغتیایي پاملرنې پر هغه حق اغېز ونه کړي چې زه به یې په څېړنه کې د ګډون نه کولو په صورت کې هم هماغه روغتیایي پاملرنه ترلاسه کولای شم ،
9) دا چې باید یوه لاسلیک شوي او نېټه لرونکي رضایت فورمې کاپي ترلاسه کړئ،
10) دا چې باید په څېړنه کې د ګډون کولو په اړه د فکر کولو پر وخت تر فشار لاندې نه یم.

زما د څېړنې ډاکټر به راته وایي چې ایا دغه څېړنه د خوړو او درملو اداري (FDA) لخوا تنظیم شوې ده که نه. زه پوهېږم که چیرې دا څېړنه د FDA لخوا تنظیم شوې وي، نو د خوړو، درملو او سینګار توکو اړوند فدرالي قانون (FD&C قانون) له مخې ښایي FDA د څېړنې څارنه وکړي او په څېړنه کې زما د ګډون اړوند ټول ریکارډونه او سوابق کاپي کړي.

---

که نورې پوښتنې لرئ، باید له څېړونکي یا د څېړنېزو چارو له مرستیال څخه پوښتنه وکړئ. پر دې سربېره، کولای شم د اداري بیاکتنې د بورډ (IRB) سره چې په څېړنېزو پروژو کې د ګډونوالو خوندیتوب ته پاملرنه کوي، اړیکه ونیسم. له IRB سره د اړیکې نیولو لپاره: له دوشنبې تر جمعې د سهار له 8:00 د ماښام تر 5:00 بجو پورې په (415 476-1814 شمېرې ته زنګ ووهئ یا دغه پتې ته لیک واستوئ؛ UCSF د بشري څېړنو د خوندیتوب پروګرام، پوسټ بکس 490 ,1288الینوس جاده، 6م پوړ، سان فرانسیسکو، کالفورنیا 94158 او یا دغه پتې ته برېښنالیک واستوئ irb@ucsf.edu. د ژباړې په اړه د معلوماتو لپاره (415 476-1814 شمېرې ته زنګ ووهئ یا دغه پتې ته برېښنالیک واستوئ irb@ucsf.edu.

د موافقې اړوند عناصر په شفاهي توګه وړاندې شوي دي.

د ګډون کونکي نوم ______________________________________________

د موافقې او رضایت لپاره د ګډون کونکي لاسلیک ____________________________

والدین یا قانوني اعتباري استازی ________________________________________

د شاهد لاسلیک _________________________________________________

نیټه ____________________